احمد صمیم ۲۰۱۳/۰۳/۰۵

# د کانکور نتیجې دې باطلې او له سره دې شفاف کانکور واخستل شي

[د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳۹۱ کال د کانکور ازموینو پایلې اعلان کړې. د پایلو له مخې شاو خوا ۵۵ زره کسان د لوړو زده کړو مؤسساتو ته بریالي شوي، او پاتې کسان یا بې پایلې دي او یا هم ناکام شوي دي. د پایلو لومړنیو دریو مخونو ته په کتنې سره پایلې په دې توګه دي:

په لومړي مخ کې پنځوس تنو له ۳۳۳ څخه تر ۳۲۷ پورې نومرې اخېستې، چې ۳۵ تنه یې له دایکندي، ۹تنه له غور څخه او ۶ تنه له کابل څخه دي. په دویم مخې کې پنځوس تنو له ۳۲۷ څخه ۳۲۴ پورې نومرې اخېستې، چې ۳۵ تنه یې له دایکندي، ۸ تنه له کابل، ۵ تنه له هرات، یو تن له غور او یو تن هم له بامیان څخه دی. په دریم مخ کې پنځوس تنو له ۳۲۴ څخه تر ۳۲۳ پورې نومرې اخېستې، چې ۳۳ تنه یې له دایکندي، ۶ تنه یې له غور، ۵ تنه له هرات، ۳ تنه له کابل، او له بامیان، بلخ او سمنګان څخه یو یو کس راغلي.

د دایکندي ولایت پایلو ته په کتو سره شاوخوا ۸۰۰ سوه کسانو له ۳۰۰ پورته نومرې اخېستي او له پروان ولایت څخه ۶۳۴ کسانو تر ۳۰۰ پورته نومرې اخېستي دي او ټول یې ډېرو لوړو پوهنځیو ته بریالي شوي دي. په لومړنیو ۱۵۰ کسانو کې له کابل څخه ټول ۱۶ کسان راغلي، حال دا چې د کابل نفوس د ټول افغانستان شاوخوا ۲۰ سلنه ده او د ټول افغانستان په پرتله دلته د زده کړې ښه امکانات شته.

یوازې پورتنیو شمېرو ته په کتو سره سړی پوهېدای شي چې دا ځل بیا په څومره پراخه کچه درغلي شوې ده. پروسږ کال په کابل کې د دشت برچي له عبدالرحیم شهید له لیسې درې سوه تنو تر درې سوو زیاتې نومرې وړې وې] (روهی ویب پاڼه).

که دایکندي وال، غوریان او د نورو وروسته پاتې ولایتونو ځوانان په ریښتینې توګه بریالی کیدای شوای، دا به د افغانستان د پرمختګ ښه نښه وه. خو په ریښتیا داسې نده. دلته نورې خبرې او لوبې دسیسې دي:

۱) تیر کال د پوهنې وزارت او نړیوال بانک په یوه علمي سروې کې دا څرګنده شوه چې د دایکندی ۹۵٪ ښوونکو د تدریس تر ټولو ټیټ معیارونه (Minimum Standards of Teaching) ندي پوره کړي. دا ددې معنی لرې چې دغلته د کانکور د سوالونو د حل کیلي ویشل شوی وه.
۲) دا کار په پروان، غور او نورو سیمو کې هم شوی و.
نورې خبرې چې موږ اوریدلې دي، پدې ډول دي:

۳) په پروان کې د والي سکرتر د ازموینې کیلي ټولو ته ویشلې او ټول داوطلبان ډیرو لوړو پوهنځیو ته بریالي شوي دي.
٤) د کابل په طب انستیتوت کې چې د ازموینې صحنه وه یوه ښوونکې په زوره زوره چیغې وهلې چې [دلته تر نیمایي زیاتو ازموینه ورکوونکوسره دوه او درې موبایلونه دي او سوالونه یکې تیار حل دي، دوی ملی امنیت ته معرفی کړئ او دا ازموینه باطله اعلان کړئ]. خو د طب پوهنتون مشرانو او د نظارت نورو استادانو ورته ویل چې [موږ مه بدناموه او ځان غلی ونیسه].
٥) په بلخ کې ازموینه ورکوونکو ته یو ساعت اضافي وخت د وزریر په امر او د ددغه ولایت د وکیلانو په غوښتنه ورکړل شوی دی چې د قانون خلاف کار دی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

٦) د کانکور سافت وايرونه د داسې خلکو په لاس کې دي چې همدې بې عدالتي ته روزل شوي دی. دوی کمپيوترونو ته داسې کمانډونه ورکړي دي چې يوازې د همدوی له ډلې او سيمې خلک بريالي کوي او د نورو سيمو خلک ناکاموي.

٧) د کابل ښار د ډيرو برخو اول نمره ګان ناکام شوي دي، خو د تر ټولو وروسته پاتې ولايتونو اخر نمره ګان بريالي شويدي چې معجزه ورته ويلی شو.

په مسايلو خبر او با مسئوليته افغانان بايد دا ټول فکټونه راټول کړي او پدې باب د يو جدی قانوني غبرګون پلان تيار او د پلي کولو رهبري يې وکړي.

د ملي شورا غړي پدې باب مسئوليت لري چې پر دولت فشار راوړي تر څو دا نتيجې باطلې اعلان کړي او د يوې بېطرفې ادارې تر نظارت لاندې له سره کانکور ازموينه واخستل شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ